عبدالباری جهانی ۲۰۲۱/۰۷/۱۵

# راجا مهیندرا پراتاپ او د هغه خاطرات

«دریمه برخه»

**هغه شپه په مونشن کي:**

په ماپښين کي ما يوه لويه مظاهره ليدلې وه او چا راته وويل چي دا د سولي لپاره مظاهره ده او ما هم چنداني جدي ونه نيوله. د نومبر لومړۍ شپې ورځي وې، چي ښايي شپږمه به يي وه، هوا يو څه سړه وه او زه وختي بستري ته ولاړم. يو ګړی وروسته مي يو دز واورېدی. دا څشي وو؟ د هوټل د کړکۍ درنې پردې مي کش کړې، د برنډې ور مي پرانيست او برنډې ته ووتلم. هلته مي وليدل چي په لوی ميدان کي خلک راغونډ سوي ول او يو سور بيرغ يي رپاوه. انقلاب؟ ژر لاندي را کښته سوم او پوښتنه مي وکړه چي څه خبره ده؟ چا راته وويل چي بيرته خپلي کوټې ته ولاړ سم؛ خير خيريت دی؛ هلکان هسي خپل ساعت تېری کوي. مګر په هغه شپه په جرمني کي يو بشپړ تغيير راغلی وو. د باويريا( د جرمني جنوبي سيمه، چي اوس هم د باويريا ايالت دی، او خلک يي اوس هم په خپلو ځانګړو افتخاراتو وياړي جهاني) پاچا او د هغه کورنی تول تښتېدلي دي او يوه سور رژيم يي ځای نيولی دی. په سبا مي وليدل چي د کړکيو هينداري ماتي سوي دي او په لارو کوڅو کي دلته هلته وړې نښتي هم وسوې. يو ځل خو زه د دې نښتو په منځ کي راګير سوم.مګر دا وضع فقط لکه له تالندي او برېښنا سره ملګرې باران په يوه شېبه کي تېر سو او زه لوند هم نه سوم.

**په سويزرلينډ کي:**

له پولي څخه تېرېدل ډېره ګرانه خبره وه. مګر زه له سرحد څخه ځکه سم تېر سوم چي خپلي پيسي مي له کاليو سره ګنډلي وې. زه د مزداسنان په ښار کي، چي له زوريخ څخه ډېر ليري نه دی، دوې مياشتي، له يوې مذهبي ټولني سره، و اوسېدلم. په برن کي مي د امريکا سفير ته د هند د ستونزو او د خپلواکۍ د مسلې په باب خبري کولي خو هغه ښځي زما خبرو ته توجه قدر ونه کړه. ضمنا د لندن ټايمز د اخبار له لاري خبر سوم چي د افغانستان پاچا حبيب الله خان وژل سوی دی. جرمني ته د بيرته تللو فيصله مي وکړه.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

**زه روسیې ته ولاړم:**

زه باید افغانستان ته تللی وای. امان الله خان پاچا سوی او په هند کي یې له برتانویانو سره جنګ اعلان کړی وو. سرحدونه تړلي ول. په روسیه کي د سرو او سپینو لښکرو ترمنځ جنګ روان وو. د جرمني زړې لښکري اوس هم د بالتیک په سیمه کي پرتې وي. زه باید تللی وای او ځیني داسي ملګري مي درلودل چي زما سره ملګري سوي وای. د جرمني ملګرو مي د مرستي وعده راسره وکړه. دا نو اوږده کیسه ده. دوی راته وویل چي د مځکي له لاري په تېرېدلو کي مرسته نه سي کولای نو په دوه زره مارکه مو یوه پوځي الوتکه کرایه کړه چي زه یې د سرو لښکرو له سیمي سره نیژدې، چي په هیڅا یې اړه نه درلوه، کښته کړم. هغه شببه به مي هیڅ هېره نه سي چي یوازي روان وم او یو بکس مي په څنګ کي نیولی وو او د شوروي پوځ دوو عسکرو ودرولم. ډېر ژر په هغه ځای کي د سرو او سپینو لښکرو ترمنځ جګړه ونښته؛ مګر زه له یوه ملګري سره روغ رمټ ماسکو ته ورسېدلم.

**د روسیې په هیات کي:**

موږ له ښاغلي لینین سره وکتل.د دې ملاقات ترتیب ښاغلي کاراخان راته نیولی وو. پروفیسر وونیسینسکي زموږ لپاره ټول شیان پر لار کړي وه. د روسیې د سفیر سوریتز سره کابل ته روان سوم... په یوه خاص اورګاډي کي د افغانستان سرحد ته ورسېدو. موږ هرات ته راغلو. په ۱۹۱۵ کال کي چي زه دې ښارته راغلی وم زه د خپل هیات مشر وم او دا ځل د روسیې په هیات کي دوهمه درجه ډیپلومات وم. عجیب تصادف وو چي هغه مخکنی ګورنر اوس هم په هرات کي پر خپله هغه پخوانی وظیفه باندي وو. ما په کابل کي د روسیې سفیر اعلیحضرت امان الله خان ته معرفي کړ. وروسته مي د پاچا په غوښتنه هغه هیات پرېښود او د پاچا شخصي مېلمه سوم. ماته یې د سردارنصر الله خان قصر راکړ. دا سړی د پاچا کاکا وو چي د تخت د نیولو لپاره یې ناکام تلاښ کړی وو.

**د ۱۹۲۰ کال پسرلی:**

پاچا د خارجه چارو دفتر ته وغوښتلم. اووه لیکونه یې راکړل چي د تبت، چین، جاپان، تایلینډ، د امریکا د متحده ایالاتو، جرمني او ترکیې مشرانو ته لیکل سوي وه. زه یوه شي حیران کړم او هغه دا چي هغه لیکونه چي په ۱۹۱۵ کال کي د جرمني صدراعظم د هند د شهزاده ګانو لپاره راکړل په عین وربښمو او څرمنو کي تاوسوي وه لکه امیر چي ماته را وسپارل. ما له پاچا څخه د علت پوښتنه وکړه. ده ومسل او وې ویل چي څه چي جرمني کولای سي افغانستان یې هم کولای سي. بیا یې نو زه په ډېره مهرباني په غېږ کي ونیولم او په مخه ښې یې راسره وکړه. زه باید د پامیر د غرونو د څوکو له لاري تبت، چین او جاپان ته تللی او پر دنیا را ګرځېدلی وای.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

یوه په زړه پورې او له پنده ډکه کیسه:

هغه شپې مې په یادیږي چې دوستان مې را باندې را ګرځېدلي ول. په هغوشپو ورځو کې دوه پوځونه سره مخامخ ول. متارکه سوې وه مګر سوله نه وه ټینګه سوې. زه په افغانستان کې وم. افغانانو په ټل کې یو لوی بری ترلاسه کړی وو. برتانیې د خپل بري لاپې کولې او ویل یې چې جلال آباد ته نیژدې خپل هدف ته رسېدلي دي. مګر بیا هم برتانیه مجبوره وه چې د پاچا امان الله خان شرایط ورسره ومني. دا ۱۹۲۰ کال وو او ما له پاچا څخه رخصت اخیستی وو. زه په حقیقت کې د افغانستان لپاره په ماموریت وتلی وم. یو افغان صاحب منصب، چې په هغه وخت کې یې د جګړن رتبه درلوده او اوس ډګروال دی، راسره ملګری وو. یو شمېر هندي ملګري هم راسره وه او د دغه راز یوه ماموریت لپاره لازمه بدرګه راسره ملګرې وه. دا خاطره د بدخشان ده. یوه ورځ زه د بلبلانو په دې سیمه کې ناست وم چې زما ملګری ګلاب سینګهه دوګرا ( بل نوم یې عبدالهادي خان ) د پسرلي ښکلي فضا او موسم ورسره اخیستی او په خپلو خیالونو کې ډوب وو او یو ناڅاپه یې ماته مخ راواړاوه او وې ویل چې جنګ به کیږي؛ د افغانستان پوځونه به د هند پر لور روان وي. او ته به بیا د هند امپراطور سې. زما سره ژمنه وکړه چې یو ولایت به ماته راکوې. ما ویل دا څه چټیات وایې؟ ده ویل که نه وي نو اولسوالي او که هغه نه وي نو یوه علاقه داري خو به راکوې. ما ویل ته نه پوهیږې چې څه وایې او له چا سره خبري کوې.ما ته چې له پلاره څه راپاته وه هغه مې ټول پرېښودل او خلکو ته مې ورکړه. که زه دا ټوله نړۍ ولرم زه به یې بیرته خلکو ته ورکړم.زه وایم چې هیڅوک باید د دې نړۍ هیڅ برخه په لاس کې ونه لري. ما چې هر څونه خبري کولې په هغه اندازه دی راڅخه خوابدی کېدی. له هغې ورځې یې زما څخه زړه سوړ سو او بالاخره مې له لاسه ورکړ. او ما له خپل ځانه سره وویل چې زه ناکامه کیږم، ځکه چې د نړۍ په سترګو کې ناکامه یم. ځکه چې زه د نړۍ د نورو انسانانو په څېر، چې خلکو ته رشوت ورکوي، زه چاته رشوت نه سم ورکولای. نو ما هغه څه چې دوی یې ناکامي بولي ولیده، همدغه زما بری دی.

**د روسیې له لارې بیرته جرمني ته:**

موږ یو ځل بیا د پامیر په غرونو کې پر آسونو سپاره وو. مګر دا ځل یې له هغه پخواني وار سره توپیر درلود. په ۱۹۱۷ کال کې چې زه دلته راغلی وم د نړۍ وال خطرناک جنګ وخت وو. د برتانیې او د روسیې د امپراطورۍ دواړو هیوادونوقواوو تعقیبولم. دوی فقط غوښتل چې ما ونیسي او مړ مې کړي. اوس چې ۱۹۲۰ کال وو زه د افغان هیات سره روان وم. زما سره اوس هم د یوه مېلمه په حیث سلوک کېدی مګر زما سره یو افغان جګړن ملګری وو او شاهي مکتوبونه راسره وه چې د نړۍ د اوو مشرانو


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

په نامه لیکل سوي ول. په پامیر کي انقلابي لښکرو د روسیې یوځونه له منځه وړي وه. برتانیې له افغانستان سره متارکه کړې وه. زه اوس له دې ګاونډیانو ښخه نه بېرېدلم. البته یو بل خطر موجود وو او هغه دا چي غلو لاره بنده کړې او اشغال کړې وه. لږ مخکي د افغانستان تاجران دلته لوټ سوي ول. دوی ماته رپوټ راکړ چي مالونه، نغدي پیسي او وسلې یې غلو ورڅخه اخیستي او لوټ کړي دي. دې لوټماراتو د بې وسلو کولو په نوم خلک شکول. دا غله د روسیې په خاوره کي وه، البته اوس دا داسي سیمه وه چي هیڅ حکومت او اداره پکښي نه وه. په بله ورځ موږ مارش پیل کړ. موږ په دوربینونو کي غله، آسونه او د هغوی پرشاوخوا څو تنه عسکر ولیدل. ما یو زړه ور سپور ور واستاوه او د غلو مشر ته یې اطلاع ورکړه چي موږ راځو او که ضرورت سي نو جنګ ته بالکل تیار یو. زموږ چل کار ورکړ. د غلو مشر یوازي راغی او زموږ سره یې ولیدل. کله چي دی له آسه کښته سو نو؛ زه هم کښته سوم او د لاس روغبړ مو سره وکړ. دا نو اوږده کیسه ده خو ما هغه مجبور کړ چي د خلکو مالونه بیرته ورکړي. د خلکو مالونه یې ورکړل او موږ ته یې د شپې ست لا هم وکړ خو موږ یې مېلمستیا قبوله نه کړه. په سبا موږ د چین خاوري ته ورسېدلو. دوی موږ ته د پرمخ تللو اجازه رانه کړه او موږ مجبور نه وو چي د چینایانو سره جګړه وکړو. عسکرو خپل د چینایي تاشقرغان اولسوال ته زموږ د رسېدلو اطلاع ورکړه. ده په خپل نوبت کاشغر ته خبر ورکړ. په دې اطلاعاتو او یوه بل ته په خبر ورکولو شپې ورځي کښېوتلې او موږ سخت ستړي سولو.

څو ورځي وروسته موږ ته اجازه راکړه سوه چي تاشقرغان ته ور ننوزو او له اولسوال سره وګورو. جګړن عبدالکریم خان او یو څو تنه نور زما سره ملګري ول او ما خپل هندي ملګري را سره وانه خیستل. کله چي موږ دغه واړه غرني ښارته داخل سوو نو خلک مو لیدلو ته راغلل. د برتانیې محلي مامور یو هندی کونسل هم په دې کسانو کي ولاړ وو. موږ په هغه ځای کي چي چینایانو راته په نښه کړ د استراحت لپاره دېره سولو. په سبا سهار یې یو ډېر شانداره سبا ناری راکړ او ځلوېښت ډوله خواړه یې راته کښېښودل. وروسته مو د مسلمان قاضي سره ټُرکی ډوډي وخوړه.

**یو کال په بدخشان کي:**

موږ نور مخته نه سوای تللای. د چین مقاماتو موږ ته د پر مخ تللو اجازه رانه کړه. موږ مجبور وو چي بیرته د افغانستان خاوري ته ننوزو. البته دا یوه سخته او ربړونکي عقب نشیني وه. موږ مجبور وو چي خپلي ځیني خېمي پرېږدو ځکه چي آسونه مو دونه کمزوري سوي ول چي د خېمو د وړلو توان یې نه درلود. یو شمېر آسونه مو مړه سول ځکه دونه کمزوري سوي ول چي نور یې نو حرکت نه سو کولای. سړې هوا، لوړې ارتفاع او د خوراکي موادو نښتی له کاره اچولي وه. زما ځینو ملګرو هم


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

رخصت واخیست. یو پنډت یا برهمن مُلا ، چي ما له انګلیسیانو څخه ژغورلی او خوشي کړی مي وو، د چین په خاوره کي راځخه پاته سو. یو بل ګورکه عسکر چي افغانستان ته تښتېدلی وو هغه هم خپل کورته راځخه ولاړ. هندو خزانه دار مو کابل ته راځخه روان سو. او کله چي موږ بدخشان ته ستانه سولو نو زما له سپینو زرو یو ډک صندوق یي هم راځخه وړی وو. کرار کرار بخت بیرته یاري راسره وکړه. ښکلي بدخشان په سندرو ویلو بنا وکړه او موږ کرار سولو. خوندوري منې مو هره ورځ خوړلې. بلبلانو سندري ویلې، او ګلونو هم د بدخشان دې ښکلي هواته نڅا کوله. د بدخشان پوځي قوماندان به معمولا ماته بلنه راکوله. زموږ ملګري ګلاب سینګهه، زموږ په ګاونډ کي، په روسي خاوره کي واده وکړ. ما د چین او روسیې دواړو له سرحدي مقاماتو سره تماسونه ټینګ کړل. پاچاامان الله زما پر لاس د چین د ترکستان ګورنر جنرال ته آسونه واستول. د چین د جمهورییس په نوم د اعلیحضرت مکتوب مي هم ور واستاوه. پاچا زموږ تشه خزانه بیرته را ډکه کړه. په ۱۹۲۱ کال کي مو بیرته حرکت پیل کړ او دا نو بله کیسه ده.

**د هیوادونو د بنسټ ډبره:**

دا پامیر دی. دلته څلور هیوادونه سره مخامخ کیږي. دا لکه د افغانستان، هند، چین او روسیې تر منځ د اساس ډبره. زما لپاره پامیر یو وخت معمی وه. یو وخت ورڅخه وبېرېدلم او په زړه کي یې لړزه را پیدا کړه. مګر اوس ماته لکه آشنا ملګری داسي ښکاري. زه دلته یو ځل په ۱۹۱۷ کال کي نه وم راغلی؟ بیا په ۱۹۲۰ کي او اوس دا دی په ۱۹۲۱ کي بیا پکښي ګرځېدلم. زه اوس د پامیر د هر کونج او ګوښي سره بلد سوی وم. موږ یو ځل بیا د چین د خاوري پرلور مارش وکړ. مګر دا ځل مي په سینکیانګ کي د مخته تللو څخه ښخي لاس واخیست. د چین سرحدي مقاماتو هیڅ جواب نه وو ترلاسه کړی او ماته یي وویل چي که دې سیمي ته ځې نو بهتره ده چي د پیکینګ د لاري ورته راسې. زه د نړی بام پامیر ته بیرته ستون سوم. زه بیرته افغانستان ته ستون نه سوم بلکه د نویو لارو د پیدا کولو په تلاښ کي سوم.

**د روسي پامیر پایتخت:**

یو ځل د ژمي په موسم کي زه د خرکوک واړه ښارته راغلی وم. هغه د افغانستان د دولت په خاصه اجازه او د شوروي روسیې د اولسوال په بلنه. د سیمي ګورنر ښاغلی سیمیکین پر ما ډېر مهربان وو. هغه زما ښه عزت وکړ. ما فیصله وکړه چي هغه ته ورسم او د هغه په مرسته تاشکند ته ولاړ سم. زه او زما ملګري د روسي پامیر مرکز ته ولاړو. د خروک په ښارګوټي کي ښې ودانی ولاړي دي او شاوخوا سیمه یي شغنان بلل کیږي.


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

**سر آغاخان او آمو:**

زموږ ډېرو لوستونکو ښايي د سر اغا خان نوم اورېدلی وي. ډېر هنديان يې د مسلمانانو د يوه مشر په حيث پېژني. ډېر اروپاييان يې د آسونو ځغلولو د قهرمان په نوم پېژني. دی د آسونو ډېر ډولونه لري او هر وخت په مسابقه کي ګټونکی وي. مګر دا حقيقت به ډېرو ته نه وي معلوم چي هغه دلته د آمو د سيند په شاوخوا کي ډېر زيات پيروان لري. د واخان،شغنان، اشکاشم، روشان او درواز خلک، چي د آمو د سيند پر غاړو باندي پراته دي اکثر د هغه پيروان دي. زما ملګري ښاغلي عبدالهادي خان ( ګلاب سينګهه) خپله مېرمن دلته د خرکوک په خلکو کي پيدا کړه او د خپل خسر سره اوسېدل يې غوره کړه. نو کله چي زه د روسي پامير مرکز ته راغلم دلته مي دی او د ده خپلوان يو ځل بيا وليدل.

**توپان د چايو په پياله کي:**

ما هيله درلوده چي ښاغلی عبدالهادي به مرسته راسره وکړي او د سيمي ګورنر يا اولسوال ښاغلی سيمکين به، په پوره مهرباني، زما لپاره ټول ترتيبات ونيسي. مګر زه ځکه نااميده سوم چي ښاغلي عبدالهادي خان کافي نفود نه درلود او پخپله ښاغلی سيميکين يوه بل تن ښاغلي ګلادسوف بندي کړی وو. په دې برخه کي يو محلي انقلاب روان وو. د ښاغلي سيميکين مرستيال د محلي عسکرو په ملاتړ ورته راپورته سوی وو. سيمکين د هغي سيمي په افغاني برخه کي يوه ښځه هم کړې وه. د پيسو په خرڅولو او شيندلو کي يې ډېر لاس خلاص وو. ما کوښښ وکړ چي د هغوی په منځ کي سوله وکړم. د محلي عسکرو او ملکيانو يوه غونډه مي را وبلله. ما يوه وينا وکړه. ښاغلي ګلادسوف خپلي خبري وکړې او ترجمان راته ترجمه کولې. زه پوه سوم چي ښاغلي سيميکين محبوبيت له لاسه ورکړی دی. دوی پر هغه باندي د پيسو د ټولولو تور لګاوه. ما هم دا موضوع پرېښوله.

**بالاخره موږ روان سولو:**

ما د روسانو په پوسته کي ځيني دوستان درلودل. او د سيند پر دې بله غاړه د افغانستان د پاچا ملاتړ راسره ملګری وو. ډګروال عبدالکريم او له افغانستان څخه پنځه شپږ نور سړي لا اوس هم راسره ملګري ول. له ډېرو خبرو څخه وروسته، جوړه پر دې وسوه چي موږ کولای سو له هغو تقريبا ځلوېښتو روسانو سره چي بيرته تاشکند ته روان دي ملګري سو.ښاغلي ګلادسوف پخوانی ګورنر سيميکين د بندي په توګه روان کړ. هغه ته يې فقط يو خر ورکړ چي يوازي د سختي ستړيا په وخت کي باندي سپور سي. عسکر د خپل خدمت د دورې له بشپړولو څخه وروسته خپلو کورونو ته روان ول. ځيني محلي شغناني عسکر د بهتري روزني لپاره تلل. په دې ډله کي يو تن ډاکتر ويچيچ نومېدی چي يو وخت


برای ارسال مقالات به روی لينک ذيل کليک نمائيد!
info@arianafghanistan.com

په جنګي بندیانو کې وو او وروسته د دې اولسوالی بشپړ واک ورسپارل سوی وو. له دوی سره دوه ماشین ګن ورسره وه او عسکر هم بشپړ وسله بند وه. دا یو لوی ښکلی رسم ګذشت وو.

**یوه پېښه چې په یادولو ارزي:**

یو پخوانی خزانه دار ښاغلی ایوانوف ماته راغی او له ما څخه یې وغوښتل چې د افغانستان په سرحدي دفتر کي پر یوه چا باندي سپارښتنه ورته وکړم. ده وویل چې دی او د ده ملګری باید افغانستان ته وتښتي. ما ورته وویل ستاسي مطلب څه دی؟ زه ستاسي سره په تېښته کي مرسته وکړم؟ زه ستاسي د حکومت مېلمه یم . زه د خپل کوربه پر ضد څرنګه عمل کولای سم. ده ډېري زاری راته وکړې. او وې ویل چې دا د ده لپاره د مرګ او ژوند مسله ده او که زه مرسته ورسره وکړم نو دی به د شوروي حکومت پرضد هیڅ عمل ونه کړي. دی فقط غواړي چې د ځان لپاره د ژوند کولو یو ځای او وسیله پیدا کړي. ده وویل چې په هر صورت تښتي خو که زما یوه سپارښتنه ورسره وي نو دا به یوه مرسته وي. بالاخره زه هم ورسره راضي سوم. ده ته مي یو لیک ورکړ او چې په چا اړه لري هغه ته مي سپارښتنه وکړه. کله چې زه په ۱۹۲۳ کال کي بیرته افغانستان ته سون سوم نو هغه سړی او د هغه ملګری مي ولیدی چې په افغانستان کي یې په یوه ښوونځي کي درس ورکاوه. ص ص ۴۲-۶۷

**ماموریت ختم سو:**

موږ تاشکند ته ورسېدلو او د افغانستان د قونسل جنرال مېلمانه سولو. په دغه وخت کي مي د افغانستان د خارجه وزیر سردارمحمودبېګ طرزي لیک ترلاسه کړ او لیکلي یې وه چې اینګلینډ او افغانستان سوله سره وکړه او زموږ ماموریت نور ختم دی. هغه لیکلي وه چې هغه شاهي مکتوبونه بیرته ورته وسپاري چې زه یې تبت، جاپان، تایلینډ، متحده ایالاتو، ترکیې او جرمني ته معرفي کولم.هغه لیک چې د چین د جمهوررییس لپاره یې راکړی وو هغه ما د وخته د چین جمهوررییس ته لیږلی وو. زما سره بدرګه ملګری، کرنیل عبدالکریم خان یې هم غوښتی وو. ماته یې اختیار راکړی وو چې کابل ته ورځم او که په روسیه کي پاتیږم... ما خپل آسونه خرڅ کړل او یو څه پیسي مي نغدي کړې. دغه راز مي ځیني طلایي سکې او یو افغان نوکر راسره وساتی. په تاشکند کي ډېر سخت ناروغ سوم. کله چې ماسکو ته ورسېدلم نو د افغانستان په سفارت کي دېره سوم. سفیر میرزا محمدخان پر ما باندي ډېر مهربانه وو. هغه له کریملین څخه یو ډاکتر راته را وغوښت او هغه زما ناروغي محرقه تشخیص کړه.

**له ایم این روی سره کتنه:**

په ماسکو کي مي له افغاني منابعو څخه اورېدل چې د روی په نوم یو سړی ( دا هغه مشهور کمونیست ایم این روی دی چې د کمینټرن ډېر فعال غړی وو. په اروپا، لاتین امریکا او اسیا کي یې فعالیتونه کول


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com

جهاني ) د افغانستان ډېر سخت مخالف دی. ده ویل چي افغانستان د روسیې او هند ترمنځ یو دېوال دی او دا دېوال باید ونړول سي. په دغه وخت کي مولنا برکت الله هم راسره یو ځای سو. خبر سوم چي ښاغلی روی غواړي زما سره ووېني خو هغه نه غواړي چي د افغانستان سفارت ته ولاړ سي. یوه غلط فهمي موجوده وه او ما هغه ته پیغام واستاوه چي حتما به د افغانستان له سفیر سره ګوري او زه به کوښښ وکړم چي فضا بهتره کړم. زه ناروغ وم او روی مي پوښتني ته راغلی وو. د افغانستان سفیر هم راغی او ما له هغه سره روی معرفي کړ. کله چي دوی سره ولیدل او خبري یې سره وکړې نو دواړو ویل چي کاشکي یې پخوا سره لیدلي او دا غلط فهمي لیري سوې وای. روی په یوه کتنه کي ماته مشوره راکړه چي زه باید هند ته ولاړ سم. پرېږده چي یو دوه درې کاله بندي سم بالاخره به خوشي سم او په خپله خاوره کي به فعالیتونه کوم. مولنا برکت الله ویل چي په هیڅ توګه د هند بندیخانه قبوله نه کړې. بهتره ده چي په خارج کي مړ سي. زه چي اوس ورته ګورم نو دواړو هغه لار واخیستله چي ما ته یې مشوره راکړې وه. ښاغلی ایم این روی په هند کي شپږ کاله بندی سو او اوس آزاد ګرځي او مولنا برکت الله په کلیفورنیا کي ښخ دی...   ص ص ۷۰-۷۲

«د دریمې برخې پای»



د عبدالباری جهانی د نورو لیکنو لپاره ، پر عکس کلیک وکړی


برای ارسال مقالات به روی لینک ذیل کلیک نمائید!
info@arianafghanistan.com